استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

ارسالی : انارگُل خوستی

دوشنبه ۰۳ فبروری ۲۰۲۵

# ای زما وطنه






اې زما وطنه د لعلونو خزانې زما
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما
سترګې مې لوګی شه ستا د خاورو د کورونو نه
عقل مې ایرې شه ستا د پاره د فکرونو نه
ځار شمه، قربان شم ستا د غرونو د سیندونو نه
ستا هره دره کې دي د تورو نښانې زما
اې زما وطنه د لعلونو خزانې زما

salamwatanam@gmail.com

زه یم ستا د خاورو ته زما د مینې جوړ یې
ته مې د غیرت او د پښتو رنګینې جوړ یې
ستا زړه کې پرتې دي ټولې تللې زمانې زما
اې زما وطنه د لعلونو خزانې زما
ستا عزت چې نه وي، زه به نوم او عزت څه کړمه
ته چې خوار و زار یې زه به خوب او راحت څه کړمه
ستا سر چې وي ټیټ نو زه به شان او شوکت څه کړمه
مسته به دې خاوره کړم په وینې مستانې زما
اې زما وطنه د لعلونو خزانې زما
یا به دې زه سیال کړمه وطنه د جهان
یا به ستا په پښو کې تورې خاورې کړمه ځان
زه به درې ورې شم خو تا به کړم ودان
اې زما وطنه د لعلونو خزانې زما

( غني خان)



salamwatanam@gmail.com